## څه به پیښ شي؟

دا معاینه به د یوې ښځینه نرس یا ډاکټر په واسطه کیږي: که چیرې هیڅ ښځینه کارمندان موجود نه وي تاسي کوم بل چیرې د ملاقات لیږدولو غوښتنه کولی

د پیل کولو څخه مخکې به هغوی تشریح کړي چې څه به پیښ شي او که تاسي کومې پوښتنې لرئ هغه به ځواب کړي. د ژباړونکي بندوبست کیدی شي.

د یوه نرم برس په مرسته به ستاسي د مهبل (ښځینه تناسلي آلې) څخه د حجرو بیلګه واخیستل شي.

دا د 5 دقیقو څخه کمه موده کي ترسره کیږي.

که تاسي غواړئ د ملاتړ لپاره ځان سره کوم څوک راوستلی شئ.

## دا څنګه کار کوي؟

د 25 او 64 کلونو ترمینځ عمر لرونکي ټولي میرمني په هرو 3-5 کلونو کي د معاینې مستحق دي.

کله چې تاسي لومړی ځل د یوه عمومي ډاکټر سره راجستر شئ، تاسي ته به یو ملاقات وړاندیز شي که ستاسي لپاره وي.

وروسته لدي به تاسي د هر ملاقات په خله یو لیک ترلاسه کړئ (هرو 3-5 کلونو کي).

په ځینې سیمو کي ممکن له تاسي د مراجعینو کلینیک ته د ورتګ غوښتنه وشي، چې هلته تاسي د ملاقات پرته د ورتګ په هماغه ورځ معاینه کیږئ.

په لویدیز یارکشایر کي په 10 کي د 7 څخه ډیرې میرمني خپل ملاقات ته ورځي کله چې وبلل شي.

## ولې یې وکړئ؟

د رحم معاینه (سمیر ټیسټ) د رحم سرطان څخه ستاسي د خپل ځان ژغورلو یوه له ترټولو غوره لاره ده.

د دې معاینې په مرسته تاسي د سرطان علایم په پیلي مرحله کي مومئ چې درملنه یې په اسانی کیدی شي.

د دې په خیر د معاینې ملاقاتونه په انګلستان کي په کال کي تر 4,500 نفرو ژوند ژغوري.

په ځتکی سره د رحم سرطان نه موندل ستاسي د کورنی لپاره د جدي اندیښني لامل کیدی شي.

خپله روغتیا بخت ته مه پریږدئ.

همدا اوس خپل د رحم معاینه وکړئ.

West Yorkshire and Harrogate Cancer Alliance

## ستاسي اسانه لاربنود

# د رحم د سرطان معاینه



د سرطان معاینات په انګلستان کي د خلکو لپاره خوندي او وړیا دي

په انګلیند کي 12,000 میرمني په یوه ورځ کي د معایني ملاقات لري

که تاسي پدي وروستیو کي انګلستان ته راغلي یی، تاسي د معایني کولو لپاره د ډاکټر سره نوم لیکنه کولی شئ

**PASHTO**

## مرسته او ملاتړ

د رحم د معایني په اړه د نورو معلوماتو موندلو لپاره دلته ځیني د کتورو اړیکو تفصیلات دي

ستاسي د ځایی عمومي ډاکټر جراحي

ویب سایټ: **https://www.thewhitehousecentre.org.uk**
بریښنالیک:
تلیفون: **033 043 6243**
پته: **Whitehouse Centre, Princess Royal Health Centre, Greenhead Road, Huddersfield, HD1 4EW**

د یارکشایر مهاجرت

ویب سایټ: **migrationyorkshire.org.uk**
بریښنالیک: **admin@migrationyorkshire.org.uk**
تلیفون: **0113 378 8188**
پته: **Floor west, Merrion House, 110 Merrion 4 Centre, Leeds, LS2 8LX**

د لویدیز یارکشایر او هاروګیت سرطان تلوالی:

ویب سایټ: **canceralliance.wyhpartnership.co.uk**
پته: **White Rose House, West Parade, Wakefield, WF1 1LT**

د Jo ترسټ:

ویب سایټ: **www.jostrust.org.uk**
بریښنالیک: **info@jostrust.org.uk**
تلیفون: **0808 802 8000**
پته: **Jo's Cervical Cancer Trust, CAN Mezzanine, 7-14 Great Dover Street, London, SE1 4YR**

د ملي روغتیا خدمت:

**www.nhs.uk/conditions/cervical-screening**

## د خپلو پایلو ترلاسه کول

تاسي عموماً د خپل ملاقات څخه 2 اونۍ وروسته د لیک په واسطه خپلي پایلي ترلاسه کوئ.

د ډیری خلکو پایلي کټ مټ نورمال وي.

که ستاسي پایلي نورمال وي، هرڅه سم دي او تاسي ته به په 3-5 کلونو کي بیرته بلنه درکړل شي.

که چیري کوم غیرعادي څه وموندل شي، تاسي ته به په 1 کال کي بیرته بلنه درکړل شي یا د روغتون وړیا ملاقات به درکړل شي.

پروسه د هر چا لپاره یو شان ده او ستاسي پایلي به د کوم بل چا سره شریکي نشي.